AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ولی الله ملکزی ۲۰۲۳/۰۱/۳۰

# د کونړ؛ غرونه غورځنګونه کتاب، آنلاین شو




د کتاب لپاره دریو ښاغلو لیکوالانو، استاد، محمد اکبر کرګر، ژورنالست حیات الله پیاوړي او ډاکټر سید اصغر هاشمي سریزې لیکلې چې ځینې برخې یې په لنډو ټکو کې د درنو لوستونکو خدمت ته وړاندې کیږي.
استاد کرګر: (د ملکزي صیب دې کور آباد وي چې په ښکلو کرښو اوعناوینو یې یو وار بیا زما مخ خپل ماشومتوب، زلمیتوب او تېرعمر ته ستون که، راته یې وویل: « دا یوه هڅه مې کړې چې ستا په نظر به ښنګه وي؟» ما د دې اثر چې ملکزي صیب په کې زیات کړاو ګاللي ولیده، لومړې خو د هغه د احساس قدردانی کوم او بله دا چې یو څوک له خپل کلي او کوره لیرې شي، له خپلې دیرې، هوجرې او هدیرې لیرې لاړ شي، له خپلو ونو او غنو لیرې شي نو بیا یوه ژوره نوستالژیا د تیر د یاد په پار د هغه په اندامونو لکه خپسه، خوله لګوي۔ پر ما یې هم دا کاني وکړې. زه چې هرکله (هسې خو ټول افغانستان زموږ په تنګ او مساپر زړه کې پروت دې) د کونړ نوم اورم نو دا شعر مې سم دواره خولې او ذهن ته راځي چې وایي: ای مسته، مسته کونړه مسته + دغم جاله مې درکې لاهو کړه. اوس یې درنیسه، ای زبردسته
که څوک د یو کونړي کور، یا دېرې او هوجرې ته ورشې، هغه که تازه د خپل پټي او کار نه راغلې وي، پایڅې به یې لمدې وي، خولې به پرې راماتې وي، خو هر څه چې په کور کې لري، ستا مخ ته به یې کیږدي او درته وایي به « تور توتان، له یار نه قربان» د کونړي په هماغه سپیره سوکړک او د شوتلو په سبو کې روحانیت او معنویت غځیدلی وي، مینه او صمیمیت په کې وي او ریا او تظاهر ترې تښتیدلی وي۔ نو همدا کونړۍ مینه ده او همدا د کونړیانو ځانګړتیا ده.
زه او ټول کونړیان، د درانه ملګري، ولي الله ملکزي پوروړي یو چې زموږ د بیوزلي خو په هوډ او عزم کې د هندوکشي کونړ یادونه یې کړې ده. ښه یادونه یې کړې ده. غرونه یې ورله ستایلي دي. درې یې ورله ستایلې دي او باتور ولس یې ستایلی دی. ملکزي ته مبارکي وایم او په دې برخه کې یې نوره زیاته بریا غواړم).
لیکوال، حیات پیاوړی: ( زه د کونړ د غرونو، غورځنګونو او عامو کونړیانو سره له ډیره وخته څه نا څه بلدتیا او خوږه راشه درشه لرم. هلته یو شمیر درانه ملګري او دوستان لرم چې د ټولو په پیژندګلوۍ، دوستۍ او ملګرتوب زښت ډیر ویاړم. د هغو خوږو دوستانو په ډله کې مې یو هم د همدې کتاب لیکوال، ګران دوست ښاغلی ولي الله ملکزی دی. د کتاب د لوستلو پر مهال له داسې موضوعاتو او اشخاصو له نومونو سره مخامخ شوم چې ما لا پخوا ډیر ښه پیژندل، خو د کتاب د مطالعې له برکته د هغوی نومونه راته بیا مخ ته راغلل او ډیر ارزښتمند یادونه را تازه شول. د کتاب د لیکلو تود هرکلی او د زیار ګاللو ستاینه یې کوم. دا د بشپړې جغرافیې، اقتصاد، سیاست، عقایدو، دودونو، قومي جوړښتونو، ژبو او ټولنیز ژوند په اړه د غني معلوماتو درلودونکی کتاب دی، نو ځکه یې لوستل یوازې د کونړي عزیزانو لپاره نه، بلکې د نورو هیوادوالو لپاره هم ډیر ګټور بولم.
دا چې ملکزی صاحب د لوړو زده کړو ښبتن او زیاتره لوړې زده کړې یې له هیواده بهر په سعودي عربستان او د امریکا په متحده ایالاتو کې تر سره کړې، نو د ملکزي صاحب په خیر نامتو لیکوالو ته باید سپارښتنه وشي چې د وطن څخه د یو څه وخت لیرې پاتې شوی، نو له همدې امله د پښتو ژبې د معیاري کلماتو په لیکلو کې ور ته لا نوره


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکې په خیر و لولئ

پاملرنه په کار ده. ټول ګران هیوادوال او په ځانګړې توګه ځوانان د دې ګټور کتاب لوستلو ته رابولم. په پای کې ملکزي صاحب ته د ستر رب څخه ښه روغتیا، خوشحالۍ او بې شمیره بریالیتوبونه غواړم. قلم یې تاند اوسه).
ډاکټر هاشمي: (د هڅاند ژورنالست، ملکزي (کونړ؛ غرونه غورځنګونه) کتاب د کونړ پیژندنې هڅه ده. د کونړ ولایت د تاریخ، جغرافیا او طبیعت پیږندنه، د ولسوالیو او قومونو پیژندنه او د دې ولایت د مشهورو کسانو پیژندنه په کې راوړل شویده. دغه هڅه د ستاېلو وړ ده، خو د دې خبرې واضح کول هم په کار دي چې کوم هغه لاملونه دي چې نوموړې یې دیته هڅولې دی؟ زه فکر کوم یو لامل یې د کونړ سره مینه او عشق دی چې د لیکوال په داخلي نړۍ کې جریان لري.
له هیواد سره مینه ډیره سابقه لري. لویو لویو شخصیتونو د خپل هیواد ارمان کړی او تیر ته ګرځېدلي دي. دا ډول مینه د هر انسان په داخل کې شتون لري او ځینې پوهان په دې نظر دي چې د ټولنې دننه عوامل او مسائل له یو انسان څخه بل انسان ته په میراث پاتې کیږي او تل په زړه او ذهن کې خوندي وي. د ملکزي په کتاب کې له هیواد سره د مینې اغیزې له ورایه ښکاري او دغه مینه د ده له روان سره تړاو لري. دا هغه تیرې خاطرې دي چې د نورو اغیزو پرته د نوستالژیکو تاثیراتو څخه پیدا شویدي. په پای کې لیکوال ته خوښ او خوشحاله وخت غواړم چې نور علمي کارونه وکړي او هاشمي خپرندویه ټولنه ویاړي چې دا ډول علمي آثار چاپ او د خپلې ټولنې غړو ته وړاندې کړي).
قدرمنو لوستونکو ! په لاندیني لنک کې کتاب د پي، ډي، اف په بڼې په وړیا ډول ستاسې په خدمت کې دی، البته د کاپي رایټ د حق په درلودلو سره، تاسې چې کله هم له دې کتاب څخه اقتباس یا کاپي کوئ او یا له کومې برخه څخه یې په خپلو لیکنو او خپرونو کې استفاده کوئ، نو د کتاب ریفرنس او یادونه مه هیروئ. مینه او مننه / ولي الله ملکزی

[https://drive.google.com/file/d/1mD8Gpdvs5FegcvNDmEYmU_UtJp3b0r9x/view?usp=share_link](https://drive.google.com/file/d/1mD8Gpdvs5FegcvNDmEYmU_UtJp3b0r9x/view?usp=share_link)


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ